آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۲

# میرانه او ځواني

زه خو د وینو د واټ
یو لاروي غوندې یم
زما پر لاره باندې
پل ایښودل ګران دي
زه یم لیت پیت په وینو
د دُښمن دا هم نه لوریږي پر ما
د اوبو جام یې را نه واړولو
اوس یې په وینو کې لمبل هم
را باندې نه لوریږي
وګوره ما ته
وګوره ده ته
د دې میرانې
نا ځوانی په منځ کې
دا تفاوت بس دی

فریدرکس هاون، ډنمارک، ۰۵ /۲۰۰۱/۰۷





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ